محمد هارون خپل شعشعي


۳۰ سپتمبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۱۱

**۲۳- تصوف :**

تصوف، په لغت کي د وړينو جامو اغوستلو، درويشۍ او د حق پر لار رهي کېدلو ته وايي[۱] . د ځينو نورو عرفاني مسألو په شان، د تصوف په باب هم د داسي تعريف موندنه څه نا څه ګرانه ده، چي د دې پراخي او هراړخيزي اصطلاح ټول اړخونه په ځان کي ونغاړي؛ او د ټولو عرفاني طريقو، مفکرو مخکښانو ته د منلو وړ يي (وي) .

په عامه اصطلاح کي، صوفي هغه چا ته وايي، چي ځان له نفساني غوښتنو څخه پاک کړي؛ او کاينات د حق تعالی د مظهر په توګه وپېژني . دا په حقيقت کي، هغه مانوي ( معنوي) لار ده، چي پيروان يی عقيده لري، د نفس اوباطن په پاکولو سره، د سالک پر زړه الهي انوار تجلا کيي . دا مسلک د خپل عملي سلوک او روحاني تمرينو پربنسټ، د منفي او مثبت تصوف پر دوو ببلو برخو وېشل کيږي :

- منفي تصوف : له دنيا څخه د مخ اړولو، رياضت، د مادي اړېکو د پرېښوولو، قناعت او زيږو وړينو کالو اغوستلو ته وايي .
- مثبت تصوف : د الهي عشق مقام ته د رسېدو په هيله د اخلاص، سربښندني، خلکو ته د خدمت، د نفس د روزني او د محبت او معرفت په شان پراوو تېرولو ته وايي . تصوف له تاريخي پلوه، له دونيا او پوهي څخه د نامېنده کسانو د پناه ځای ؤ؛ ځکه د ځينوصوفيانو په اند، هم دونيا طغيان لري اوهم پوهه . د دونيا له

سرکښی څخه ژغورنه، د عبادت په مرسته کیږي؛ خو د مال او شتمنی له سرکښییه ژغورنه، یوازي په زهد سره کیږي[۲] .

د تصوف اوعرفان لوړو صاحب نظرانو، د خپلو عرفاني او فلسفي ډکتورینو له مخې، د « تصوف » د اصطلاح په اړه لړ و ډېر زر تعریفونه وړاندي کړي دي، چي له هغو څخه ځیني په دې ډول دي :

- تصوف په اجتماع سره ذکر؛ په استماع سره خوښي؛ او په اتباع سره عمل دئ .
- تصوف د اسرارو صفأ؛ د خدای له رضأ سره سم عمل او له خالق سره بې اختیاره راز و نیاز دئ .
- تصوف هغه حالت دئ، چي په هغه کي عین ربوبیت څرګند؛ او عین عبودیت مضمحل سي .
- تصوف له دونیا سره دښمني؛ او له مولا سره دوستي ده .
- تصوف د اړېکو او تعلقاتو پرېکول؛ د خلایقو پرېښوول؛ او له خالق سره یووالی یا وصال دئ .
- تصوف دادئ، چي څښتن تعالی ستا وجود په تا کي مړ؛ او په خپل ځان یې ژوندی کړي [ د تصوف اوعرفان په ژبه دې مقام ته د فنا في الله او بقأ بالله، تخلقوا بِاخلاق الله مقام وایي] .
- تصوف، حق تعالی ته د ځان بشپړ سپارل دي، تر څو هغه ذات یې په خپله خوښه اداره کړي[۳] .

نامتو صوفي، ابوالحسین یاابوالحسن ( په ۲۹۵هـ ق/ ۹۰۷م کي مړ ) د تصوف په اړه وایي : « تصوف نه دود دئ، نه پوهه؛ بلکي فضیلت او نېک خوی دئ .

وروستیېو صوفیانو، د تصوف داسي پېژندګلوي کړې ده : تصوف او عرفان د فلسفي او دین هغه ګډه لار ده، چي صوفي یا عارف د حق تعالی تر هستئ پوري رسیږي . د دوی په باور، د الله سبحانه و تعالی ولایزاله هستی ته رسېدل، یوازي له دې لاري ممکن دي . د دې لاري پیروانو ته صوفي، عارف یا د کشف او طریقت خاوندان وایي . په دې ډول، تصوف د نفساني بشپړتیا پر لور، د عقل، دین او لاربښووني یو ګډ یون دئ .

## تصوف په خاصه یا ځانګړې مانا:

تصوف په خاصه یا ځانګړې مانا، د قرآني وحیو د مغز او باطن پېژندني دپاره ؛ او له هغه چلند سره د بېلتون او پرېکون په لارکي هڅه ده، چي د هري پوښتني د جوابولو په مقصد یوازي رسمي او ظاهري علوموته مخ اړوي . په بل عبارت، تصوف په دې مانا، هغه هڅه او کوښښ دئ، چي غواړي بشري وجدان ته د توحید د حالاتو او
شرایطو پر لور لاربښوونه وکي؛ یا تصوف هغه لار ده، چي د انسان له اروا سره اړېکی لري، نه دهغه له بهرني سلوک سره [۴].

تصوف له ځینو فضیلتو؛ لکه صبر، یقین او اخلاص؛ ځینو باطني احساساتو؛ لکه بیري، پرتم او میني؛ ځینو فکري ډولونو لکه تقوا، چپتیا او ګوښه توب، او ځینو تمرینو؛ لکه لوږي، ذکر، فکر او ویښتوب سره ژور اړېکي لري . دا ګرده صفتونه او حالتونه د انسان اروا د بشپړتیا اوکمال پر لور بیایي . وتلئ او منلئ عرفاني لاربښوود - مولانا جلال الدین بلخي رومي ( ۶۰۴ - ۶۷۲هـ ق) عقیده لري : « تصوف د تعریف یا پېژندګلوی وړ نه دئ . هغه، په خپله لوی شهکار عرفاني او ادبي شهکار (مثنوي معنوي ) کي د هغه پیل کیسه بیانیي، چي ځینو هندوانو په یوه تاریکه خونه کي ننداري ته وړاندي کړئ ؤ . د دې پیل د لیدو دپاره ډېر خلګ ور ټول سوي وه. له دې کبله چي خونه تاریکه وه، چا څه په سترګو نسوای لیدلای؛ نو هرچا هڅه وکړه، چي د پیل د پېژندني په خاطر له خپلو لاسو څخه کاروا خلي . یوه د هغه پر شونډک لاس تېرکړ؛ او ویې ویل، چي دا حیوان د اوبو د یوه نل په څېر ؤ. بل چا د هغه غوږ لمس کړ؛ او ویې ویل چي پیل د لویې پکې په شان ؤ . بل چا دهغه پښه حس

کړه؛ او فکريي کاوه، چي پيل د يوه ستون په شان دئ . د بل چا لاس د پيل پر شا و لګېده؛ ځکه يي نو ويل چي پيل د يوه غټ او پراخ تخت په څېر دئ . هغه ځوک چي د تصوف پېژندنه کيي، په حقيقت کي هڅه او کوښښ کيي، هغه څه بيان کړي، چي دوی لمس کړي دي . داسي فارمول او قاعده نسته، چي په هغه کي د د ين د شخصي او فردي احساساتوهر اړخ نغښتی يي . د مولانا جلال الدين بلخي په اند، صوفي په حقيقت کي هغه ځوک دئ، چي د پاکی او صفوت په لټه کي يي . يوازي د وړينو کالو اغوستل، د صوفي توب نخښه نه ده۶ . مولانا رومي، پرهغو صوفي ډوله دروغجنانو او ټګمارانو سخت ګوزار کيي، چي د خدای لار يي پری ايښي؛ اود درويشانو په ژبه له تصوف څخه خلګو ته د نيژدي والي او نورو هدفو په مقصد کار اخلي :

«چون بسـی ابليس آدم روی هست
پس به هر دستی نشايـد داد دست
حرف درويشـان بدزدد مــرد دون
تا بـخواند بر سليـــمی زان فسون
جامـهٔ پشـمين از برای کَـد کـنند
بـومـسلم را لقـب احمد کنـند
حـرف درويشـان بـدزديـده بسی
تاګـمان آيد که هست او خـود کسی
خـرده ګيــرد در سخن بر بـايزيد
نـنـګ دارد از درون او يــزيـد
هــر که داند مر او را چون بايـزيد
روز محــشر حـشر ګردد بايــزيد
بيــنوا از نـان و خـوان آسـمـان
پيش او نـنداخت حق يک استخوان
او نـدا کرده که خـوان بنـهاده ام
نايب حقم خلــيفه زاده ام . . . ۷ »

بل مفکر عرفاني لاربنود- شيخ عزيزالدين بن محمد نسفي ( ۶۳۰- ۷۰۰ هـ ق) په خپل مشهور عرفاني اثر « کشف الحقايق » کي د تصوف په اړه ، د ځينو عارفانو او صوفيانو دا نظريي راوړي دي : « ځينو ويلي دي، تصوف تقوا او پرهېزګاري ده . ځينو ويلي دي، تصوف ادب او عزت دئ . ځينو ويلي دي، تصوف نېکي او کم ازاري ده . د ځينو له نظره تصوف انزوا، له خلګو ليري والی او ګمنامي ده . ځينو نورو تصوف له ځانه د انصاف غوښتني او د نورو په وړاندي د بخښني او زغم په مانا ګڼلئ دئ ۸ . »

د اسلامي تصوف او عرفان پياوړی انګرېز پوهاند - رينالد ا. نيکلسن ( ۱۸۶۸ - ۱۹۴۵ م) هم په خپل مشهور اثر « د اسلام صوفيان » کي د تصوف په باب د ځينو صوفيانو نظريي بيان کړي دي . هغه ليکي : « اسلامي متصوفين، خدای تعالی حق؛ او ځانونه د حق څښتنان ګڼي . زياتره صوفيان باور لري، چي د صوفي ټکی عربي ريښه لري؛ او د هغه چا په مانا دئ، چي زړه يي پاک او سپېڅلی يي . ځينو اروپايي پوهانود صوفي ټکی د « سوفس » له ريښي څخه بللئ دئ؛ خو نولډيک [ د اسلامي تصوف بل اروپايي څېړونکی ] په دې باور دئ، چي د صوفي ټکی د « صوف » له ټکي څخه اخيستل سوئ دئ؛ او په پيل کي د هغو کسانو دپاره

کارېده، چي د مسيحي راهبانو په پيروي به يي زيره وړين کالي اغوستهٔ[9] . پروفيسر نيکلسن زياتيي : « تصوف په پيل کي د زهد په بڼه رامنځ ته سو؛ او له هغه رېړونکي کوښښ پرته بل څه نه ؤ، چي هدف يي د نفس پاکي، له ګونا پرهېز ، د آخرت بېره ؛ او د شيطاني وسواس د نه ختمېدونکي سرچيني په توګه د دونيا پرېښوول ؤ. تصوف په پای کي د وحدت الوجود پړاو ته ورسېدئ . په پيل کي د صوفي او نورو مسلمانانو تر منځ هيڅ توپير نه ښکارېده . صوفيانو د قرآن شريف ځينو آيتو ته په ډېر لوړ او بې ساري ارزښت کتل، چي نور مسلمانان هم هغو ته په درنه سترګه ګوري . د صوفيانو د زهد او ګوښه توب د افکر له مسيحي ارمانو څخه الهام اخيستئ ؤ؛ ځکه چي زهد او ګوښه والي د اسلام له فعالي اوخوند خوښونکي روحيي سره توپير لاره . د اسلام پېغمبر حضرت محمد ( ص) د راهبانو ګوښه توب غندلئ دئ؛ او خپلو پيروانو ته يي بلنه ورکړې ده، چي د کاپيرانو ( کافرانو) پر ضد جهاد کي برخه واخلي . هغه، دغه راز د واده په ستاينه کي هم خبري کړي دي[10] . »

د پروفيسر نيکلسن د استدلال له مخي، په جهاد کي برخه اخيستنه او واده کول، ټول هغه څه دي چي د تصوف له روحيي سره سمون نه لري . له دې امله دا نتيجه اخلي، چي ګوندي تصوف او عرفان اصلاً اسلامي ريښه او منشأ نه لري . دا استدلال د ډېر غور او پاملرني وړ دئ؛ ځکه په اسلامي تصوف او عرفان کي جهاد، واده او د ژوندانه نور اړخونه، په انسان کي د خدای تعالی مينه، د نفس پاکي او نور عرفاني ارزښتونه، نه زيانمني . پوهاند نيکلسن، په خپل ياد سوي کتاب کي همدغه راز ادعا کيي، چي مسحيي راهبانو وګرځنده مسلمانو زاهدانو او ګوښه نشينانو ته [ د تصوف په اړه] لارښووني او سلاوي ورکړي دي؛ او مور ګورو د وړيو هغه جامي، چي د صوفي تکی ځني اخيستل سوئ دئ، په اصل کي مسيحي ريښه لري . په خلوت کي د صوفيانو کښېنستل، ذکرونه، د زهد او ګوښه توب نور دودونه هم ښايي مسحيي منشأ او ريښه ولري[11] . »

لکه څنګه چي ښکاري، پروفيسر نيکلسن، د اسلامي تصوف او عرفان په پيداينت کي د نصراني رهبانيت ژوري ريښي ګوري . په داسي حال کي چي، داسلامي تصوف او عرفان مخکښان په خپلو عرفاني ډکتورينو کي، يوازي په قرآني نصوصو او نبوي سنتو استناد کيي، نه د مسيحي راهبانو په تصوفي او عارفانه دودونو .

زموږ صاحب نظر عارف، علي محمد مخلص، هم د اسلامي تصوف او عرفان د نورو مخکښو لارښوونکو په څېر، تصوف د زړه سپېڅلتيا او مانوي روښنايي ګڼي . د ملخص د عرفاني نړی ليد له مخي، صوفي يوازي هغه څوک نه دئ، چي زيرې وړيني جامي يي اغوستي يي؛ بلکي ريښتينی صوفي، په حقيقت کي هغه څوک دئ، چي زړه يي د حق تعالی په ذکر او فکر سره، له هر ډول حجابو او اړيکو ژغورلئ يي . د ده په اند، داسي زړه نو په ريښتيا سره د الهي انوارو داسي ځلانده هينداره ده، چي په رڼا کي يي ټول پټ حقيقتونه ښکاري :

بيــنادل و تــه د زړه احوال څرګنـــد دئ
که اغوستی يي ورېښمين وي يا زيړ صوف

علي محمد مخلص، په خپل پښتو او پارسي عارفانه کلام کي له څو ګوتو په شمېر ځايونو پرته، د تصوف او صوفي پر اصطلاحاتو ډېر نه را څرخي . د هغه په شعر او شاعری کي، زياتره د عرفان او معرفت اصطلاح ګاني کارسوي دي؛ او هغه چا ته د عارف په نامه خطاب سوئ دئ، چي موږ يي د ځينو تصوفي او عرفاني مخکښانو د آثارو له مخي د صوفي په نامه پيژنو . د مخلص په نظر، صوفي هغه مهال عارف دئ، چي د معرفت او عرفان په ټولو اسرارو، مقامونو او حالاتو خبر يي . د ده په عقيده، لکه څنګه چي مخکي هم يادونه وسوه، ورېښمين اطلس يا زيړ وړين کوسی د تصوف معيار نه دئ . هغه څه چي په دې پراخ عالَم کي د

پام ورې دئ، د انسان پاکي، د هغه رياضت، د هغه سپېڅلي او بې غرضه مينه، د الله تعالی د ذات پېژندنه او د هغه له ناپايه هستی سره د يو ځای والي په هيله اورېدي هڅي او کوښښونه دي .

د نور مالومات دپاره وګورئ : عرفان او معرفت ، د عارف او صوفي توپير .

لمنليکونه

١ عميد ١: ۶۹١؛ رزمجو ١١۵ ؛ Wehr 531 .

٢ رزمجو ١١۵ .

٣ نيرومند محقق ٨٨ .

۴ نيرومند محقق ٨٩ .

5 Nicholson 25.

۶ نسفی، زبدة الحقايق ١٩ .

٧ نسفی، زبدة الحقايق ١٠.

٨ نسفی، کشف الحقايق١٢١ .

9 Nicholson 3 – 4.

10 Nicholson 5.

11 Nicholson 10.

پاته لري